لوړو زده کړو وزارت
تابش پوهنتـــــون
څېړنې، تألیف او ژباړې معاونیت
د څېړنې امریت

# د تابش پوهنتون څېړنیزه پالیسي

کال: ۱۴۰۳ هـ ش


بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

پوهنتونونه، تحصیلي بنسټونه، علمي او څېړنیزې اداري دي چې د ټولنې د بیلا بیلو اړتیاوو د تامین لپاره علمي او څېړنیز خدمات وړاندې کوي. په پوهنتونونو کې د علمي کادر غړي دوه مهمې دندې لري چې یوه تدریس او بله یې څېړنې دي چې تدریس پرته له څېړنې امکان نه لري. د لوړو زده کړو وزارت د لوایحو او پالیسو له مخې او په تابش پوهنتون کې د څېړنیزو چارو د سمون، سنبالښت او انسجام فرهنګ ته د ودې ورکولو په موخه د پوهنتون د مرکزي څېړنو آمریت بهتره وګڼله او اړ شو چې د علمي څېړنو دغه پالیسي طرحه او د علمي شورا له لوري تصویب شي.

د څېړنې له میتودونو سره د کم شمېر استادانو بلدتیا، د علمي څېړنو کولو په موخه د مالي او فزیکي منابعو نه شتون او د علمي څېړنو کمیت او کیفیت نور هغه لاملونه دي چې دا پالیسي یې د جوړېدو تر درشله رسولې ده. په ملي، منطقوي او نړیواله کچه د علمي او معیاري علمي څېړنو په وړتیا د پوهنتون سنبالښت ددې پالیسۍ مهم لید لوری تشکیلوي.

د دې پالیسۍ له مخې هڅه کیږي څو د علمي څېړنو د میتودولوژۍ د زده کړې او استادانو د څېړنیزو مهارتونو انکشاف له لارې له یوې خوا استادان خپل اکاډمیک مکلفیتونه پر ځاې کړي او له بلې خوا د علمې او مسلکي څېړنو د رشد له لارې له یو بل سره په اړیکه کې اوسي څو په دې توګه د پوهنتون او په نهایت کې د لوړو زده کړو وزارت ستراتیژیک پلان عملي کړای شي.

الف: **څیړنه او اهمیت یې**

دا چې د هر علمي نهاد او په ځانګړي ډول د پوهنتون له پاره د څېړنو ترسره کول یو له حیاتي او ډېرو اړینو کړنو څخه دي، نو ویلای شو چې پرته له څېړنو د پوهنتون اصلي تعریف او مسؤلیت نیمګړی دی. له څېړنو پرته د ټولنې پرمختګ ناشونې دی. د هرې ټولنې د پرمختګ اندازه د همغه ټولنې د حقیقي او حکمي اشخاصو د څېړنو د کیفیت او کمیت له مخې کولای شو. نن ورځ د نړۍ د اکثرو پرمختللو ټولنو له پاره د اړینو څېړنو اړوند په عادي بودیجه کې ځانګړی او فوق العاده ځای او ونډه ورکول کیږي، تر څو په یادو ټولنو کې اړوند نهادونه انفرادي او ګروپي څېړنې په ملي او نړیواله کچه ترسره کړي. ستونزې معلومې، فرصتونه تشخیص او د حل اړوند یې داسې علمي څېړنې وکړي، چې په علمي بنه لاسته راوړنې ولري. یادې چارې ترسره کول پرته له شکه د همغه ټولنې پرمختګ او نورو له پاره د آسانتیا باعث ګرځي.

**ب: فعلي وضعیت**

د هرې ټولنې د رشد او پرمختګ لپاره امنیت، سوله او ثبات یو اساسي شرط دی خو له بده مرغه په افغانستان کې لسګونه کلونو جګړې هرې برخې ته د ستر زیان اړولو تر څنګ په علمي او څېړنیز بهیر هم اغیز غورځولی دی. د کلونو جګړو د ورانیو او بدبختیو د جبران په موخه په تیرو څو کلونو کې ښه فرصتونه رامینځته شوي دي. د استادانو د ظرفیت لوړولو، زیربناوو احیا او انکشاف، د علمي څېړنو رشد او انکشاف، د تعلیمي نصاب نوې ارزونې او تجدید او پوهنتوني انکشاف په برخه کې ډېر کارونه تر سره شوي دي چې لا تر اوسه بسنه نه کوي.

1. **د ضعف نقطې**

د علمي څېړنو کولو او د هغوی له میتودونو سره د ډېرو استادانو نا بلدتیا، د څېړنیزو اسانتیاوو کمښت، په ځینو تحصیلي بنسټونو کې د علمي منابعو نه شتون یا کمښت، له علمي څېړنو سره د یو شمیر استادانو نه یا کمه لیوالتیا او په عادي بودیجه کې د علمي څېړنو لپاره د کافې بودیجې نه شتون د علمي څېړنیزو پروژو د پرمختګ په مقابل کې ستر خنډونه او د ضعف نقطې ګڼل کیږي.

په همدې ډول د پوهنتونونو ترمنځ د علمي او مسلکي اړیکو کم رنګي، په علمي ساحو کې له علمي څېړنو څخه د ترلاسه شویو پایلو څخه نه ګټه اخستنه او په نهایت کې د خپلو کمیو او کاستیو د رفع په موخه د علمي څیړنو څخه د استفادې له ارزښت څخه نا خبري په دې برخه کې نور ستر خنډونه ګڼل کیږي.

2. **د قوت نقطې**

اوسمهال په یو شمیر پوهنتونونو کې د علمي څیړنو په برخه کې د مجربو استادانو، د لوړو تحصیلي درجو لرونکو استادانو شتون، د علمي څیړنو د مرکزونو لپاره د زیر بناوو شتون او معلوماتي ټکنالوژۍ ته د خلکو اسانه لاسرسی د علمي څیړنو په ډګر کې د قوت نقطې ګڼل کیږي.

په تابش پوهنتون کې د علمي څیړنو د انسجام د مرکز شتون او دې برخې ته د جلا بودیجې ځانګړې کول به استادانو ته دا فرصت ورکړي څو د علمي څیړنو په ډګر کې له شته امکاناتو څخه اعظمي ګټه پورته کړي او په نهایت کې د ټولنې د څېړنیزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره کار وکړي.

**ج: د علمي څیړنو پالیسۍ لرلید (Vision)**

تابش پوهنتون په ملي او سیمه ییزه کچه د یو څېړنیز مرکز په بڼه ځلول

**د: د علمي څیړنو پالیسۍ ماموریت (Mission)**

د تابش پوهنتون د څېړنې آمریت ماموریت د لاندې مواردو په

۱- د علمي څیړنو پیاوړتیا او پراختیا

۲- د علمي کارد غړو لپاره د علمي څیړنو په برخه کې د امکاناتو او اسانتیاوو برابرول

۳- له څېړنیزو پایلو څخه د ګټه اخیستنې زمینه برابرول

۴- له نورو څېړنیزو مرکزونو او بنسټونو سره اړوندو مسلکي او علمي اړیکو ته پراختیا ورکول

۵- د ټولنې د ستونزو د ټولنې څېړنیزې اړتیاوې درک کول

**ه: متوقع پایلې**

**1)** د ګټورو علمي څیړنو په کولو او نشر سره به محترم استادان، محصلان او اړونده علاقمندان معتبرو علمي موادو ته لاسرسی پیدا کړي.

**2)** د علمي څیړنو په پایله کې به د هېواد او سیمې سیاسي، حقوقي، اقتصادي، ټولنیزې، فرهنګې او نورې ستونزې تشخیص او د حل یوه مناسبه لاره به ورته وړاندیز شي.

**3)** د څېړنو د ترسره کیدو څخه د مالي سرچینو لاسته راوړلو له امله د تابش پوهنتون په عایداتو کې زیاتوالی راوستل.

## لومړی فصل
## عمومي احکام

**لومړۍ ماده: مبنی**

د ملکي لوړو زده کړو قانون د (۱۱) مادې د (۵،۷ او ۱۲) اجزاو د حکمونو په اساس د تابش پوهنتون لپاره د څېړنو پالیسي تدوین شوې ده.

**دویمه ماده: موخې:**

ددې پالیسۍ موخې عبارت دي له:

1) د ټولنې د هغو ستونزو حل کول چې هره ورځ د معاصرې ټکنالوژۍ او یا نورو عواملو له امله ورسره مخ کیږو.
2) له ملي، سیمه یزو او نړیوالو معیارونو سره په برابرو څېړنیزو مهارتونو د علمي کادري غړو سنبالښت په داسې توګه چې هدف لرونکي او د هیواد له اړتیا سره سمې څېړنې وکړي.
3) د علمي څېړنو د ترسره کولو په موخه استادانو او محصلینو معنوي او مادي ملاتړ او د لازمو اسانتیاوو برابرول.
4) د ټولنې د اقتصادي، علمي، مسلکي او تولنیزې پیاوړتیا په موخه له علمي څېړنو څخه د تر لاسه شویو نتایجو څخه ګټه اخستنه.
5) د علمي څېړنو له مراکزو او ټولو هغو ادارو سره چې علمي او څېړنیزې برنامې لري د قوي اړیکو او همغږۍ رامینځته کول.
6) د پوهنتون د ځاني بساینې په موخه د مالي منابعو تقویه او تامین.
7) د وخت او اړتیا سره سم اړین او موثر تحقیقی چاپیریال چمتو کول او په پوهنتون کې د علمي څېړنو په برخه کې استادان هڅول.

**دریمه ماده: د پوهنتون مکلفیتونه:**

1. د اړتیا په صورت کې پوهنتون څېړونکي ته د څېړنې په جریان کې ټول اړین سهولتونه برابرول.
2. ټول هغه مصارفات چې د څېړنې په جریان کې د څېړونکي لخوا ترسره شوي دي د پوهنتون د څېړنیز مرکز له لوري د شواهدو او مدارکو له طی مراحلو وروسته د مالي او اداري چارو معاونیت لخوا اړونده استاد ته سپارل.
3. په ملي او نړیوالو معتبرو ژورنالونو کې د استادانو لخوا د ترسره شویو څېړنو د خپراوي لګښتونه تر(۱۵۰) امریکایې ډالرو پورې د پوهنتون لخوا تادیه کېږي.
4. د تابش پوهنتون د دایمي او قراردادي استادانو لخوا د تابش پوهنتون په نوم د مقالو نشرولو او بیا یې معیاري اسنادو له سپارلو وروسته د لاندې جدول سره سم تادیه کېږي:

| ګڼه | مقالې نوعیت | د ژونال نوعیت | حق الزحمې اندازه |
|---|---|---|---|
| ۱ | کتابتونې مقاله(Review Article) | ملي رسمي جواز لرونکې مجله | ۲۰۰۰ افغاني |
| ۲ | څېړنېزه مقاله | ملي جواز لرونکې معتبره مجله | ۴۰۰۰ افغانی |
| ۳ | کتابتوني مقاله (Review Article) | نړیوال معتبر ژونال | ۲۵۰۰ افغانی |
| ۴ | څېړنیزه مقاله | نړیوال معتبر ژونال | ۵۰۰۰ افغانی |

5. که علمي مقاله یا څېړنه کې د تابش پوهنتون دوه یا درې تنو استادان سهیم ول، د ورکړل شوي مقدار نغدي پیسو لومړي لیکوال ته ٦٠٪ سلنه او دویم ته ۴۰٪ سلنه ورکول کېږي. که استادان درې تنه وي، لومړي لیکوال ته ۴۰٪ او دویم او دریېم ته ۳۰٪ سلنه ورکول کېږي.
6. که په څېړنه کې بهرنی استاد (شخص) دخیل و، په نړیوال یا ملي ژورنال کې د خپرېدو له فیس څخه د ۵۰ سلنه په ورکړې مکلف دی او حق الزحمې مستحق نه ګڼل کیږي.
7. د علمي او څېړنیزو چارو د سرعت او دقت په موخه اداره خپل ټولو مسؤلیتونه په ټاکلي وخت ترسره کوي.
8. کله چې د څېړنو امریت د څېړنې د نشر مصارف او یا هم د نشر شوې څېړنې حق الزحمې تادیه کول غواړې نو مکلفیت لري چې ټول اړونده لازم اسناد ترلاسه او یایې تنظیم کړي او بیا د رسمي او معیاري وړاندیز ترتیب ریاست مقام ته د ضمایمو سره وړاندې کوي د ریاست مقام له منظورۍ وروسته مالي او اداري چارو معاونیت یې د څېړنو امریت سره په هماهنګي تادیه کوي.

**څلورمه ماده: د څېړونکي استاد مکلفیتونه**

1. څېړونکی استاد مکلف دی د علمي څیړنې پالسۍ سره سم خپله څېړنه پیل کړي.
2. په هره میاشت کې باید څیړونکی د اړوند پوهنځې علمي څیړنو کمیټې ته د څېړنیزو فعالیتونو راپور وړاندې کړي.
3. که چیرته څیړونکی د څیړنې په جریان کې د ستونزو سره مخ کیږي یا دا چې وړاندیزونه ولري؛ نو باید د پوهنځي د علمي څیړنو کمیټې سره یې شریک کړي.
4. څېړونکی استاد مکلفیت لري چې خپل څېړنه د تابش پوهنتون د استاد تر عنوان لاندې نشر کړي او د ژوند تر پایه یې د بل پوهنتون په نوم نه شي تغیرولی.
5. د څیړنې د بشپړیدو څخه وروسته څیړونکې باید خپله تر سره شوې څیړنه د اړونده پوهنځي د څیړنو کمیټې او یا د څېړنې آمریت له طریق اړونده خواوو سره شریکه کړي.
6. هر استاد مکلفیت لري چې د خپل مسلک او تخصص په پام کې نیولو سره حد اقل کال کې یوه څېړنه ترسره کړي.
7. څېړونکی استاد مکلفیت لري چې د خپلې څېړنې پایلې د مقالې اړونده کنفرانسونو ( ملي او نړیوال) یا اړونده اداراتو او یا هم پوهنتون په داخلي د علمي کنفرانس تر عنوان لاتدې محصلینو او استادانو سره شریک کړي.
8. استاد به کوښښ کوي چې خپل مقالې د نشر کیدونکې ژونال د اعتبار او حیثیت په اړه پوره اطمنان ترلاسه کړي.

## دویم فصل

## د څېړنې آمریت او پوهنځیو د څېړنو کمیټو دندې او مسؤلیتونه

**پنځمه ماده : د پوهنتون د علمي څېړنو آمریت دندې او مسؤلیتونه:**

**(۱) دندې موخه:** د پوهنتون په کچه د علمي څیړنیزو چارو تنظیم،دودول، معیاري کول او د ټولنې د پرمختګ په موخه په څېړنیزو فعالیتونو کې مؤثریت او مثمریت رامنځته کول.

**(۲) دندې او مسؤلیتونه:**

1. د څېړنیز مرکز د چارو د ښه تنظیم په موخه عملیاتي، انکشافي او څېړنیزو پلانونو ترتیبول.

2. د څېړنیزو چارو د بهبود او معیاري کیدو په موخه د لوړو زده کړو وزارت تقنیني استاد او د پوهنتون د داخلي پالیسو او طرزالعملونو تطبیقول او څارنه.
3. د پوهنتون په کچه د څېړنې د فرهنګ دودول او څېړنیزو فعالیتونو کې د استادانو او محصلینو دخیلول.
4. د پوهنځیو د علمي ځیړنو کمیټو څخه د راغلي څېړنو او د ځیړنیزو پروژو ارزول او تدقیقول.
5. د د مسلکي پرمختیا مرکز سره په ګډه د علمي ځیړنو د وضعیت د بهبود په موخه د علمي کادر دغړو د ظرفیت لوړوالي لپاره په ملي او نړیواله کچه د لنډ مهاله او منځ مهاله پروګرامونو ( سیمینارونه، ورکشاپونه او کنفرانسونه) برابرول.
6. د علمي کادر غړو لخوا په حادو او نویو سیاسي، حقوقي، ټولنیزو، اقتصادي، مدیریتي او دیني ترسره شوې څېړنو باندې علمي کنفرانسونو دایرول.
7. د علمي کادر غړو د انفرادي څېړنو او ګډو څېړنیزو پروژو د ترسراوې لپاره د امکاناتو او وسایلو د برابرولو په برخه کې لازم اجرا ات ترسره کول.
8. د پوهنتون په سطحه د ټولو علمي کادر غړو او بهر څخه راغلي څېړنو ارزونه ترسره کول.
9. اړونده مراجعو سره د پوهنتون د ټولو علمي کادر غړو د ترسره شوې څېړنو پایلي شریکول.
10. د اړونده مراجعو او ټولني څخه ترسره شوې نیاز سنجۍ د تحلیل په اساس د څېړنیزو موضوعاتو د ټاکلو لپاره لازم اقدامات ترسره کول.
11. د علمي څېړنو د سمون مرکز د ټولو چارو څخه څارنه او نظارت ترسره کول.
12. د بیروني مراجعو څخه د څېړنې پورې مربوطې پروژو د ترلاسه کولو او پلي کولو په برخه کې لازم اقدمات ترسره کول.
13. په ملي او نړیواله کچه د استادانو او محصلینو د علمي ځیړنو د خپرولو لپاره امکاناتو او اسانتیاوې برابروول.
14. د تابش پوهنتون د څېړونکو او استادانو لخوا کومې مقالي چې په ملي او نړیوالو ژونالو نشریږي له اعتبار څخه اطمنان حاصلول.
15. د کال د پیاوړو او برجسته څېړنو د تشخیص او د ستاینې لپاره یې د ځانګړو پروګرامونو جوړول.
16. د پوهنځیو د علمي څېړنو د کمیټو له فعالیتونو څخه څارنه کول.
17. کمیټې د کړنو څخه د پوهنتون علمي شورا او څېړنې، تألیف او ژباړې معاونیت ربعوار او کلنې راپورونو وړاندې کول.
18. د پوهنتون په کچه د څېړنو او څېړنیزو چارو د ښه تنظیم او هماهنګۍ په موخه میاشتنۍ عادي او ضرورت په وخت کې فوق العاده مجالس دایرول.
19. د تابش د ملي او نړیوالو علمي او څېړنیزو مجلو د چارو او فعالیتونو تنظیمول.
20. په میاشني، ربعوار او کلني ډول د علمي څېړنو د سمون د مرکز د ترسره شوې فعالیتونو څخه علمي چارو معاونت ته راپور ورکول.
21. نورې هغه دندې چې د تقنیني اسنادو ذکر او یا هم د مافوق آمر لخوا سپارل کیږي.

**شپږمه ماده: د پوهنځیو د علمي ځیړنو د کمیټو دندې او مسؤلیتونه:**

1) د کمیټې د چارو د ښه تنظیم په موخه عملیاتي او څېړنیزو پلانونو ترتیبول.
2) د پوهنتون د علمې ځیړنو امریت سره د علمي ځیړنو په ترسره کولو مرسته او همکاري.
3) د ځیړنیزو پلانونو په طرحه کولو کې د علمي ځیړنو امریت سره د نظریاتو او مشورو شریکول.
4) د استادانو لخوا د ترسره کیدونکي څېړنو او د ځیړنیزو پروژو ، پلانونو او طرحو ارزول او تدقیقول.
5) د هیواد، سیمې او نړۍ د حادو مسایلو په تړاو د علمي- ځیړنیزو کنفرانسونو دایرول کې مرسته کول.
6) د نورو ادارو د علمي ځیړنیزو مراکزو په کنفرانسونو او ورکشاپونو کې ګډون.

7) په میاشت کې حد اقل یو ځل د کمیټو د ناستو دایرول او هغې ته د کاري پلان طرحه کول.

8) د پوهنځیو په کچه په کلني ډول د پیاوړو او برجسته څېړنې په نښه کول او څېړنو امریت ته د تقدیر لپاره آماده کړای شي.

9) د ژونالونو په برخه کې د پوهنتون له اړوندو ادارو سره همغږي او د علمي مقالو د راټولولو اسانتیا برابرول.

10) په میاشني، ربعوار او کلني ډول د ترسره شوې فعالیتونو څخه اړونده برخو ته راپور ورکول.

11) د نورو هغو مرتبطو چارو ترسره کول چې ذیصلاح مراجعو لخوا ورته سپارل کیږي.

**دریم فصل**

**د څېړنې د عناوینو او پلانونو د تائیدۍ پړاونه**

**اومه ماده: په دیپارتمنت کې د څېړنې د عنوان ټاکل:**

(۱) د څېړنو امریت مکلفیت لري چې د پوهنتون د سلسله مراتبو په رعایت سره د او پوهنتون د ریاست دفتر امریت په هماهنګۍ اړونده خصوصي او دولتي اداراتو سره د نیازسنجۍ فورمونه د رسمي له طریقه شریک او یا هم ناستې ترسره کړي او هغوي په مربوطه برخو کې چې کومې ستونزې په رسمي ډول یې ترلاسه کړي.

(۲) کله چې ستونزې د مربوطه اداراتو څخه پوهنتون ته ورسیدې د پوهنتون د داخلې نیازسنجې تحلیل شوې عناوینو سره یوځای ناو د بحث لپاره د څېړنو امریت لخوا دیپارتمنت شورا ته وړاندې کیږي.

(۳) څېړنې په عنوان باندې د هر اړخیز بحث وروسته د څېړنې وړ موضوعاتو لپاره د دیپارتمنټ په کچه یو څېړنیز پلان جوړیږي او د استادانو سره په مشوره به ورته موضوعات د څېړنې په موخه سپارل کیږي.

(۴) دیپارتمنت صلاحیت لري چې د څېړنې لپاره عناوین په ټولنه کې عام او خاصې ستونزې خپله درک او څېړنې عناوین ورته ترتیب کړي .

(۵) دیپارتمنت صلاحیت لري چې د څېړنې عناوین د پروژې او یا هم په انفرادي ډول خپلو علمي کادر غړو ته وسپاري.

(٦) دڅېړنې عنوان په اړه دیپارتمنت شورى د ردولو، اصلاح، تائید او تصویب صلاحیت لري.

**اتمه ماده: د څېړنیز پلانونو په اړه د پوهنځي د څېړنو کمیټو اجراآت:**

(۱) پوهنځیو د څېړنو کمیټه د دیپارتمنتونه څېړنیز پلانونونه د خپلو مجالسو په اجنډا کې شاملوي او هراړخیز بحث وروسته رد، اصلاح، تائید، توحید او تصویب په اړه یې پریکړه کوي.

(۲) که توحید شوى څېړنیز پلان تائید او تصویب شوو د بعدي اجرا آتو لپاره توحید شوى څېړنیز پلان پوهنځي علمي شورى ته یې وړاندې کوي.

**نهمه ماده: توحید شوى څېړنیز پلان په پوهنځي علمي شورا کې مطرح کول:**

(۱) د پوهنځي علمي شورا توحید شوى څیړنیز پلان د بحث په موخه د علمي شورى غړو ته وړاندې کوي او هغوى هم د رد، اصلاح، تائید، توحید او تصویب په اړه یې پریکړه کوي.

(۲) که توحید شوى څېړنیز پلان تائید او تصویب شوو، د بعدي اجراآتو په موخه د پوهنتون علمي څېړنو کمیټې ته یې استوي.

**لسمه ماده: د پوهنځیو د څېړنیزو پلانونو په اړه د پوهنتون د څېړنې کمیته:**

(۱)  د پوهنتون د څېړنو آمریت د پوهنځیو  څخه د راغلو  څېړنیز پلانونونه د خپل څېړنې کمېټې مجالسو په اجنډا کې شاملوي او هراړخيز بحث وروسته رد، اصلاح، تائيد، توحيد او تصويب په اړه يې پريکړه کوي.
(۲) که توحيد شوی څېړنيز پلان تائيد او تصويب شوو د ورستيو اجرا اتو په موخه د پوهنتون علمي شورا ته يې وړاندې کوي.

**يولسمه ماده: پوهنتون په کچه د څېړنيز پلان په اړه ورستی پريکړه کول**

(۱)  د پوهنتون علمي شورا د  پوهنتون د څېړنو آمريت  لخوا توحيد شوی څېړنيز پلان د شورا په اجنډا کې شاملوي او  هراړخيز بحث وروسته رد، اصلاح، تائيد، توحيد او تصويب په اړه يې پريکړه کوي.
(۲) که توحيد شوی څېړنيز پلان تائيد او تصويب شوو،  نوموړی پلان د تطبيق وړ دی او  اړونده برخي او په پلان کې ټاکل شوې استادان  مکلفيت لري چې لازم اجرا آت ترسره کړي.

**څلورم فصل**

**د څېړنو او څېړنيزو پروژو څخه مالي ملاتړ**

**دولسمه ماده: بوديجې د تخصيص کولو په برخه**

(۱) تابش پوهنتون هر کال د پوهنتون د څېړنو آمريت اړوندو څېړنيزو فعاليتونو لپاره ترسره کيدونکي لګښتونه د پوهنتون عوايدو ته په پام سره بوديجه تخصيصوي.
(۲) مالي او اداري چارو معاونيت مکلفيت لري چې د بوديجې په سند کې ټاکل شوې بوديجه د څېړنو  آمريت په واک کې ورکړي.

**ديارلسمه ماده: څېړونکو لپاره مادي او معنوي پروګرامونه برابرول**

(۱) تابش پوهنتون د څېړنو آمريت له لارې هرکال د پوهنتون په کچه غوره څېړنې د يو معياري چکليست په اساس مشخصوي او د يوځانکړې برنامې له طريقه يې اعلانوي.
(۲) تابش پوهنتون دريو غوره څېړونکو ته د يوې شانداري غونډې په ترڅ کې مادي او معنوي مکافات ورکوي.

**څوارلسمه  ماده: تصويب او اجراء**

د تابش پوهنتون څېړنيزه پاليسي چې په (څلورو  فصلونو)  څوارلس مادو کې ترتيب  او د پوهنتون د ۱۴۰۳ کال په (۱۳) ګڼه فوق العاده علمي شورى کې چې په (  ۲۹/ ۱۴۰۳/۱۲) نېټه دايره شوې د هر اړخيز بحث څخه ورسته رايو په اتفاق تصويب شوه او د اجرا وړ ګڼل کيږي.

**دوکتور عبدالحميد سيرت**

**د تابش پوهنتون رئيس**